# د ځانګړیو کډوالۍ ویزې ډلبندۍ لپاره د هغه افغان تبعه غوښتنلیک چې د امریکا متحده ایالاتو دولت لپاره یې کار کړی دی

هغه افغان اتباع چې د متحده ایالتونو له لوري/ لپاره ګمارل شوي او یا یې له نړیوالو ځواکونو سره د افغانستان د امنیت ټینګښت په برخه کې کار کړی وي، ښايي د ځانګړیو ویزو ( SIV) ډلبندۍ غوښتنلیک لپاره په شرایطو برابر وي. ځانګړی کډوال کولای شي په متحده ایالتونو کې د دایمي قانوني اقامت (LPR) لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي. پر شرایطو برابروالي لپاره باید:

- له بهرنیو چارو وزارت (DOS) سره د ماموریت د رئیس (COM) تأییدي ولري؛ او
- دا چې کوم وخت تاسي غوښتنلیک وړاندې کوئ او آیا د غوښتنلیک د وړاندې کولو پر مهال تاسي په متحده ایالاتو کې یاست یا نه، باید د ځانګړې کډوالي ویزې SIV د ډلبندي غوښتنلیک هم له هغو مواردو سره یوځای وړاندې کړي چې لاندې یې یادونه شوې ده:
  - بهرنیوچارو وزارت کې د افغانانو لپاره د ځانګړي کډوالي ویزو SIV غوښتونکیو د ځانګړیو کډوالی د ډلبندۍ غوښتنلیک DS-157، فورم ولري؛ یا
  - د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو له دفتر (USCIS) سره یا د امریکايي ـ آسیایي اولادونو / کونډانو، یا ځانګړې کډوالی I-360، فورم غوښتنلیک ولري.

## غوښتنلیک څنګه وړاندې کړم؟

هغه افغان اتباع چې د 2022 کال د جولای 20 مې نېټې څخه را په دېخوا د ځانګړې کډوالی د ویزې SIV ډلبندۍ په لټه کې وی ، باید د ماموریت د رئیس تأیید لپار د بهرنیو چارو وزارت ته DS-157 فورم غوښتنلیک واستوي. دا یوه نوې پروسه ده چې د تېرې دوه پړاویزې پروسې ځای ناستی ده. د لازیاتو معلوماتو لپاره زموږ ویب سایټ travel.state.gov/afghan ته مراجعه وکړئ.

## دI-360 فورم څه وخت د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ د خدماتو دفتر ته واستوو؟

افغان وګړي چې د 2022 کال د جولای 20 نېټې د ماموریت رئیس منظور شوی یا د انتظار په حال کې تأییدي لري، په عمومي ډول به هم اړ وی تر څو د I-360 فورم د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر ته واستوی. په یاد ولرئ که سر له 2022 کال د جولای 20 مې نېټې ستاسي د ماموریت ریس تاییدی د انتظار په حالت کې وی او ستاسو د ماموریت رییس تاییدی غوښتنلیک کې امضا شوی DS-157 غوښتنلیک هم شامل وی، تاسي اړ نه یاست تر څو د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر سره د I-360 فورم غوښتنلیک ثبت کړئ. لاندې چارت ته دې مراجعه وکړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره uscis.gov/i-360 مراجعه وکړئ.

هغه افغان اتباع چې د I-360 فورم یا DS-157 تأیید شوي فورم لري، کولای شي د خپل وضعیت د تنظیم په موخه د دایمي قانوني اقامت وضعیت ( د شین کارت ترلاسه کول) لپاره له I-485 فورم سره د دایمي اقامت د ثبت یا د وضعیت د تنظیم غوښتنلیک وړاندې کړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره uscis.gov/i-485 مراجعه وکړئ.

| که چېرې ستاسو... | بیا... |
|---|---|
| د ماموریت د رئیس لهخوا دغوښتنلیک تأییدي د انتظار په حال کې ده او تاسو یو لاسلیک شوی DS-157 فورم لرئ. | د ماموریت د رئیس لهخوا د غوښتنلیک او DS-157 غوښتنلیک له تأیید وروسته کولای شئ د I-485 فورم په ډک کولو سره د ګرین کارت لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر ته غوښتنلیک وړاندې کړئ. |
| د ماموریت د رئیس لهخوا دغوښتنلیک تأییدي د انتظار په حال کې ده او تاسو یو نه لاسلیک شویDS-157 فورم لرئ. | د ماموریت د رئیس لهخوا د غوښتنلیک له تأیید وروسته I-360 فورم د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر سره ثبت کړئ. وروسته له دې چې ستاسو I-360 فورم غوښتنلیک منظور شي، تاسي کولای شئ د I-485 فورم په ډک کولو سره د ګرین کارت لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر ته غوښتنلیک وړاندې کړئ. |
| د ماموریت د رئیس لهخوا دغوښتنلیک تأییدي د انتظار په حال کې ده او تاسو یو لاسلیک شوی DS-157 فورم نهلرئ. | د ماموریت د رئیس لهخوا د غوښتنلیک له تأیید وروسته I-360 فورم د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر سره ثبت کړئ. وروسته له دې چې ستاسو I-360 فورم غوښتنلیک منظور شي، تاسي کولای شئ د I-485 فورم په ډک کولو سره د ګرین کارت لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر ته غوښتنلیک وړاندې کړئ. |
| غوښتنلیک د ماموریت د رئیس لهخوا د 2022 کال د جولای په 20 تأیید شوی دی. | I-360 فورم د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر سره ثبت کړئ. وروسته له دې چې ستاسو I-360 فورم غوښتنلیک منظور شي، تاسي کولای شئ د I-485 فورم په ډک کولو سره د ګرین کارت لپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او ګډوالی خدماتو دفتر ته غوښتنلیک وړاندې کړئ. |
| د I-360 فورم په متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر کې د انتظار په حال کې دی. | د I-360 فورم له تأیید وروسته کولای شئ د I-485 فورم په ډک کولو سره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالی خدماتو دفتر ته د ګرین کارت غوښتنلیک وړاندې کړئ. |

## د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر کې د I-360 فورم ډک کولو لهپاره اضافي لارښوونې

د دې لهپاره چې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍخدماتو دفتر ستاسو غوښتنلیک په اغېزناکه توګه وپلټي، باید د خپل I-360 فورم سره د اړتیا وړ **ټول** معلومات او اسناد ور واستوئ.

**د اړتیا وړ اسناد**

- د پاسپورټ، زېږون کارډ، پېژندپاڼي ( تذکرې) یوه کاپي څو دا وښیي چې تاسي د افغانستان اتباع یاستئ.
- ستاسو د ماموریت د رئیس د تأیید یوه کاپي؛
- د I-94 فورم د مخ او شا یوه کاپي، او که چېرې په متحده ایالتونو کې فزیکي حضور لرئ، د متحده ایالتونو د سرحدي محافظت او ګمرک (CBP) څخه د خروجي/ دخلوي سوابقو یوه کاپي؛ او
- I-360 فورم غوښتنلیک چې د 6 شمېرې په 11 برخه کې مو لاسلیک کړی دی.

که چېرې د ملي هویت ښوونې لهپاره لومړني سندونه نهلرئ، کولای شئ له سمو معلوماتو سره ثانوي سندونه واستوئ. که چېرې هر یو له ثانوي سندونه څخه چې لاندې ورنه یادونه شوې، استوئ، باید د لومړنیو سندونو د نشتوالي په اړه دلایل وړاندې کړئ.

**<u>لومړني سندونه</u>**

- پاسپورټ؛
- تذکره؛ یا
- زېږون کارټ.

**<u>ثانوي سندونه</u>**

- د ډریوي لیسنس؛
- د بیوګرافي یا هغو سندونو په اړه ملاتړي معلومات چې لا دمخه مو د متحده ایالتونو دولت یا د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ته وړاندې کړي یا نور سندونه لکه:
  - د متحده ایالتونو د ویزې غوښتنلیک( DS-160، DS-260)؛
  - د نوم او زېږون نېټې لروونکي مذهبي او روغتیایي معلومات؛ یا
  - تحصیلي سوابق چې ستاسو نوم او د زېږون نېټه وښیي.
- د زېږون ثبت شوی سند چې لاندې موارد په کې شامل وي:
  - د زېږون نېټه، د زېږون ځای او له سمې املا سره ستاسو بشپړ نوم؛
  - ستاسو د مور او پلار بشپړ نومونه؛ او
  - دا چې کورنۍ مو په څه ډول ستاسو له زېږون څخه خبر ترلاسه کړ.

که چېرې د پورتنیو اړینو یا رسمي سندونو څخه یې یو هم نهشئ وړاندې کولی باید په لیکلي او تفصیلي بڼه د هغو د نشتون یا د وړاندې کولو ناممکنوالي په اړه تشریحات ورکړئ، په توضیحاتو کې لاندې موارد ځای کړئ:

- په سمه توګه بشپړ نوم، د زېږون نېټه او د زېږون ځای؛ او
- په سمه توګه ستاسو د مور او پلار د زېږون نېټه او زېږون ځای.

همدارنګه باید د لومړنیو او ثانوي سندونو د وړاندې کولو د نامملکنوالي په اړه د خپلو څرګندونو سمون او بشپړوالی تأیید کړئ.

- په سند کې باید دا قید شي چې وړاندې شوي معلومات ستاسو لهخوا معتبر او سم دي.
- خپل سند باید لاسلیک کړئ څو د رسمي ثبت تأیید ته یې اړتیا نشته.

## اضافي سرچینې

د افغان اتباعو په اړه د لازیاتو معلوماتو لهپاره د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ته مراجعه وکړئ:

- د افغانستان اتباعو لهپاره معلومات - uscis.gov/allieswelcome
- د هغو افغانانو لهپاره ګرین کارټ چې د متحده ایاتونو دولت لهخوا/ لوري په کار ګمارل شوي دي: uscis.gov/green-card-for-an-afghan-employed-behalf-us-government
- د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر د اړیکو مرکز 800-375-5283( په ژوندۍ بڼه د مرستې ترلاسه کولو لهپاره لارښوونه: اتومات سیستم کې د خبرو پر مهال وواییئ " افغان" یم او د "متحدانو ښه راغلاست عملیات" پروګرام لهخوا دوسیه لرئ)
- د پتې بدلون په صورت کې له لېږد وروسته د 10 ورځو په ترڅ کې د متحده ایالتونو د اتباعو او کډوالۍ خدماتو دفتر ته په uscis.gov/ar-11 پتې ریپورټ ورکړئ.

د I-94 فورم او د متحده ایالتونو د دخولي/ خروجي سوابقو بیاځلي ترلاسه کولو لهپاره i94.cbp.dhs.gov ته مراجعه وکړئ.

د پېژندنې واقعي کارټ او د غوښتنلیک ترلاسه کولو په اړه د معلوماتو لهپاره په dhs.gov/real-id/real-id-faqs پته د داخلي امنیت وزارت سایټ ته مراجعه وکړئ.